

د مجيب الرحمن « خطيبي » ليکنه
د نشر نېټه : ۲۰ مى ۲۰۱۳ ميلادى

# پوهيږئ ؟

پوهيږئ ؟

هو!

دا ځل د ښمنان

په بل پلمه راغلي

سمه ده

چې

د مرستي

په نوم يې

له مخې خوا

ترل شوي

لاسونه يې

خلاص کړي

هو!

خو ظالمانو

بيرته

په زنځيرونو

شا پلو

راتاو کړي

هو!

د ټوپکونو

د بمونو

د ټانکونو

د الوتکو

پرځای يې

دا ځل

د پرديو

فرهنګ

قلم راوړي

هو!

وسره يې

داخل

په اسلامي

بڼه

ځانونه سمبال کړي

او

بل شان

سیاستونه یې

مخکې کړې

هو!

دا ومنې !!

هره شپه

هره ورځ

په هر کور کې

د پردیو

دفرهنگ

په غشو

خلک وژل کیږي

خو هیڅ څوك

پرې نه پوهیږي

د پردی ترشاه

ابلیس سره یې

لاس یوکړې

هو!

ځینې هم

ورسره مل شوې

ځینې هم

ورسره دښمن شوې

مفلس وخته

آسمان ته

بوډا ننوته

په ځمکه

هو!

داخل

دښمن

ډير هوښيارشوي

د پرمختګ

د مرستی

غږ وچت کړی

خو د مکناتېن

يه ګونډو کيدل يې

هير کړی

هو!

دلته پيغمبران

دلته زمريان

دلته غزنويان

دلته ابداليان

دلته د هر قوم

باتوره شاعران

ويده پراته دي

هو!

بيا به ملالۍ

را ژوندۍ شي

بيا به د احمد شاه

تاج په سر شي

بيا به توره

په کمر شي

بيا به په هره کوڅه کي

غليم پروت وي

بيا به تر پاميره

او د البرزه

په شا شي

هو!

بيا به د افغانستان

د غره په هڅکه څوکه

ښايسته بيرق

په رپيدا شي

هو!

بيا به د افغان

بچيو

هيله پوره شي

بیا به سوله

او امن

په هیواد کې

مینځ ته راشي

بیا به دافغانانو

په څیروکې

موسکا

په زړونو کې

د خوښې

خندا

هویدا شي

*****

مجیب الرحمن « خطیبي »

کابل ـ افغانستان

[www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org) - بازگشت به صفحه اصلی